**مجله علمی- تحقیقی جوزجانان**

**دوره ۱۸؛ شماره ۱ (مسلسل ۴۶)؛ بهار و تابستان ۱۴۰۴؛ صفحات ۷۷- ۸۹**

**شاپا چاپی: ۳۰۸۰-۱۰۷۰ - شاپا الکترونیکی: ۳۰۸۰-۱۰۶۰**

# اروپاپوهنيزه ژبپوهنه: د ژبې د درک او تولید رواني پروسې

**احمدجاوېد صدیقي***

پوهندوی دوکتور، دیپارتمنت زبان و ادبیات پښتو، پوهنځی ادبیات، پوهنتون بلخ، مزارشریف، افغانستان.

https://orcid.org/0009-0009-2287-6496 - jawid.sediqi1988@gmail.com

**(تاریخ دریافت: ۱۴۰۴/۷/۵ - تاریخ پذیرش: ۱۴۰۴/۷/۱۴)**

**لنډیز**

د اروپاپوهنيزې ژبپوهنې بنسټ په نولسمه پېړۍ کې ایښودل شوی دی، هغه مهال د اروپاپوهنې سترو عالمانو په دې برخه کې ځینې ګامونه اوچت کړل، چې له مخې یې اروپاپوهنيزې ژبپوهنې ته لار هواره شوه او د دغې څانګې په اړه لومړني او اساسي ګامونه اوچت شول. اروپاپوهنيزه ژبپوهنه د ژبپوهنې او اروپاپوهنې له مباحثو ګډ جوړ ترکیب دی، دغه څانګه په دې بحث کوي چې انساني ژبه په څه ډول پروسس کېږي. د دې څېړنې موخه دا ده چې اروپاپوهنيزه ژبپوهنه، د هغې اساسي اصول، د ژبې درک او د ژبې د تولید څرنګوالی په پښتو ژبه کې معرفي او لوستونکو ته دغه ژبنۍ پروسې روښانه شي. د څېړنې میتود کتابتوني دی او د مقالې په لیکلو کې د اروپاپوهنيزې ژبپوهنې له تر ټولو وروستیو منابعو څخه کار اخیستل شوی دی. د دې څېړنې د پایلو له مخې اروپاپوهنيزې ژبپوهنې د نوې ټکنالوژۍ د ډېرو ژورو ادراکي عملیو په پېژندنه کې د پام وړ لاسته راوړنې لرلې دي، چې دغه لاسته راوړنې موږ ته دا امکان راکوي چې له خپل چاپېریال سره اړیکې ټینګې او هغه درک کړو.

**کلیدي کلمې**: *اروپاپوهنيزه ژبپوهنه*، د ژبې درک او د ژبې تولید، *ژبپوهنه*، *ژبه*

* **ارجاع**: صدیقي، احمد جاوید. (۱۴۰۴). اروپاپوهنيزه ژبپوهنه: د ژبې د درک او تولید رواني پروسې. *مجله علمی- تحقیقی جوزجانان*، ۱۸(۱؛۴۶)، ۷۷-۸۸. https://doi.org/10.69892/jawzjanan.2025.69

**Scientific-Research Journal of Jawzjanan**
**Volume 18; Issue 1 (Serial No. 46); Spring & Summer 2025; Pages 77–89**
**P-ISSN: 3080-1060– E-ISSN: 3080-1079**

# psycholinguistics: the Psychological Processes of language Comprehension and Production

Ahmad Jawid Sediqi*

Assistant Prof. PH.D. Department of Pashto Literature, Faculty of Literature, Balkh University, Mazar, Afghanistan.
jawid.sediqi1988@gmail.com - https://orcid.org/0009-0009-2287-6496

**(Received: 27/09/2025 - Accepted: 06/10/2025)**

## Abstract

*The foundations of psycholinguistics were laid in the nineteenth century, when pioneering psychologists initiated key investigations that eventually led to the formal development of this interdisciplinary field. Psycholinguistics represents a systematic synthesis of linguistics and psychology, aiming to explain how language is perceived, processed, and produced by the human mind the primary objective of this study is to explore the fundamental principles of psycholinguistics, with a particular focus on the mental mechanisms underlying language comprehension and language production, and to introduce these concepts within the framework of the Pashto language. The study further seeks to clarify how these linguistic and psychological processes interact to facilitate human communication. The methodology adopted for this research is descriptive and bibliographic, drawing upon the latest scholarly sources and theoretical contributions in the field of psycholinguistics. The findings indicate that psycholinguistics has achieved significant progress in understanding the complex cognitive and neural operations involved in human language processing. These advancements, supported by developments in modern technology, have provided profound insights into how individuals perceive, interpret, and interact with their linguistic environment, thereby enhancing our comprehension of human cognition and communication.*

**Keyword**: *Language Comprehension, Language Production, Language Linguistics, Psycholinguistics*

* . **Citation:** Sediqi, A.J. (2025). Psycholinguistics: the Psychological Processes of Language Comprehension and Production. *Scientific-Research Journal of Jawzjanan,* 18(1;46), 77- 88.
https://doi.org/10.69892/jawzjanan.2025.69

**سريزه**

اروااپوهنيزه ژبپوهنه په وروستيو څو لسيزو کې د داسې يوې څانگې په توگه معرفي شوې چې د انسـان د ذهني فعاليتونو په اړه بحثونه په کې کيږي او د ډېرو پوهانو او ژبنيو څېړونکو پام يې ځان ته را اړولی دی. په وروسـتيو څو لسـيزو کې د ژبې په اړه څېړنې د نوې ټکنالوژۍ په مرسـته ډېرې چټکې شـــوې او ژبنۍ څېړنې په ډېرو برخو کې تر لوړو پوړيو ورســـېدې او په دې اړه د پام وړ پرمختگونه وشـــول، د همدې څېړنو پر مټ اوســـمهال د ژبې او ژبنيو پروســـو په اړه مهم او گټور معلومات ترلاســـه شـــوي دي. دا معلومات او لاســـته راوړنې نه يوازې د ژبپوهنې لپاره بلکې د اروااپوهنې لپاره هم مهمې دي او په دواړو څانگو کې نوې کړکۍ پرانيزي. همدا راز دغه لاســـته راوړنې د مصـــنوعي ځيرکتيا، کمپيوټري ژبپوهنې، د ژبو زده‌کړې، ښـــوونې او روزنې او د ژبنيو او ذهني زيانونو په تشخيص او درملنه کې د ارزښت وړ رول لري.

ذهني پروســـو ته د اروااپوهنيزې ژبپوهنې پام د دې لامل شـــوی چې ژبپوهان او اروااپوهان په دې برخه کې پرمختللې څېړنې وکړي او په دې برخه کې نورو شـــته پوښـــتنو ته علمي ځوابونه پيدا کړي. هغه پوښـــتنې چې د انســـان د فکر، حافظې، درک، ژبني توليد او د انســـان د پوهې او نورو مکانيزمونو په اړه شوي دي اوسمهال ورته اروااپوهنيزه ژبپوهنه ځوابونه وايي.

په پښتو ژبه کې د اروااپوهنيزې ژبپوهنې په برخه کې مقالې او کتابونه په نشت حساب دي او په دې برخه کې اوســـنيو علمي پوښـــتنو ته اړتيا ده چې نورو ژبو ته مراجعه وشي. د نړيوالو ژبو معتبر علمي اثار دې پښـــتو ژبې ته را وژباړل شي او په دې برخه کې دې بنســـټيز او علمي گامونه واخېســـتل شي، همدې اړتيا ته په کتو مې هڅه وکړه چې په پښـــتو ژبه کې د يوې علمي مقالې په چوکاټ کې اروااپوهنيزه ژبپوهنه، د دې څانگې اصول او اساسي برخې معرفي شي.

په دې مقاله کې هڅه شوې چې د ژبپوهنې دغه ستره او علمي څانگه معرفي او مهمې برخې او دندې يې روښـــانه شي، همدا راز په مقاله کې د دې څانگې په رامنځته کېدو او تاريخ باندې هم بحث شوی چې له لوستونکو سره مرسته کوي چې د دغې څانگې په تاريخ څه ناڅه پوه شي.

په دې مقاله کې هڅه شـــوې چې د اروااپوهنيز ژبپوهنې مفاهيم په ســـاده ژبه بيان شي او د بېلابېلو تجربو، ازموينو او عصـــبي انځورونو په مرســـته مســـتند شي. هيله لرم چې دغه مقاله د ژبپوهنې او په ځانگړې توگه د اروااپوهنيزې ژبپوهنې په برخه کې گټوره تمامه شي او د ژبې د فعاليتونو او دانســـان د ذهني مکانيزمونو د لا ښـــې پېژندنې او د ژبې د فعاليتونو او دانســـان د ذهني مکانيزمونو د لا ښې پېژندنې لامل شي.

**الف) ارواپوهنیزه ژبپوهنه**

د ژبې د ارواپوهنې اساس په نولسمه پېړۍ کې ايښودل شوی دی، هغه مهال د ارواپوهنې سترو عالمانو په دې برخه کې ځينې ګامونه اوچت کړل چې له مخې د ژبې ارواپوهنې ته لار هواره شوه او د دغې څانګې په اړه لومړني او اساسي ګامونه اوچت شول. ويليم وونډټ چې د تجربي ارواپوهنې پلار ګڼل شوی دی د لومړي ځل لپاره يې د ژبې او فکر ترمنځ په اړيکې څېړنه وکړه. د نوموړي څېړنې د راتلونکو څېړنو او په دې برخه کې علمي کارونو ته لار هواره کړه او د ذهني پروسو او عملياتو د مطالعې په برخه کې يې لېواليتا زياته کړه (فريد، ۱۴۰۳، ص. ۸).

ارواپوهنيزه ژبپوهنه د ژبې د درک، توليد، زده‌کړې او د ژبې ذهني پروسې د يوې بين‌الرشتوي څانګې په توګه مطالعه کوي. د ارواپوهنيزې ژبپوهنې تاريخ، له فلسفې، ارواپوهنې، عصب‌پېژندنې، ژبپوهنې او معاصرو ادراکي علومو څخه اغېزمن دی او دا ټولې علمي څانګې د ارواپوهنېزې ژبپوهنې په رامنځته کېدو کې ونډه لري.

ژبه او په همدې ترتيب فکر او فکري پروسې، له ډېر پخوا د فلسفې او علومو د بحث وړ مو ضوعات ګڼل شوي دي،افلاطون او ارسطو په خپلو بحثونو او اثارو کې د ژبې په ماهيت، څرنګوالي، د نوم او څيز ترمنځ اړيکې او د فکر په بيانولو کې د ژبې په ونډې مهمې او اساسي خبرې کړې دي، چې تر اوسه د علم په برخه کې مهمې ګڼل کېږي. په شلمه ميلادي پېړۍ کې ويليم وونډټ (Wundt, 1900, p. 22). د ژبې رواني پروسې د ارواپوهنې په څانګړې توګه د تجربي ارواپوهنې له لارې وڅېړله، نوموړي ژبه د ټولنيزو او رواني پروسو مشترکه پايله بلله او د ژبې د توليد په برخه کې يې د ذهني پروسو يو موډل وړاندې کړ (Wundt, 1900, p. 22).

يو نظر دا دی چې ارواپوهنيزه ژبپوهنه په ۱۹۶۰ ميلادي لسيزه کې رامنځته شوه او د ژبپوهانو او ارواپوهانو له خوا په ګډه د پام وړ شوه. ارواپوهنيزه ژبپوهنه د ژبې او ادراک ترمنځ اړيکې، په ماشوم کې د ژبې پرمختګ او د جملې مانيز تعبيرونه تر بحث لاندې نيسي. د ارواپوهنيزې ژبپوهنې اصلي موخه د ژبې د پروسس څرنګوالی دی، په دې سره ارواپوهنيزه ژبپوهنه دا معلوموي چې د ويونکي او اورېدونکي ترمنځ او همدا راز دا چې د ليکوال او لوستونکي ترمنځ اړيکه په څه ډول ټينګېږي بحث کوي. د انسان په ذهن کې يو فکر، يو انځور او يوه مو ضوع په څه ډول جوړېږي او هغه بيا په څه ډول ژبې ته اړول کېږي بيا څنګه د وينا او خبرو په ډول راڅرګندېږي دغه پروسه ټوله د ارواپوهنيزې ژبپوهنې د بحث وړ موضوعات دي.

ارواپوهنيزه ژبپوهنه بين‌الرشتوي څانګه ده چې هغه ذهني او د عصب‌پېژندنې پروسې په پام کې نيسي‌ کومې چې د ژبې په توليد، درک او پروسس کې دخيلې دي، دغه څانګه د ژبپوهنې او

اروااپوهنې ګډ پیوند دی. اروااپوهنیزه ژبپوهنه وړاندې بنسټیزو پوښتنو ته ځواب وایي: انسان، ژبه په څه ډول زده‌کوي؟ ذهن، وینا او لیکل په څه ډول پروســـس کوي؟ د ژبې په تولیدکې، کومې عصبي او ژنیتیکي پروسې دخیلې دي؟ ولې ځینې کسان له ژبني اختلال سره مخ دي؟

دارواپوهنیزې ژبپوهنې د رامنځته کېدو په اړه بېلابېل نظرونه موجود دي چې له هغې ډلې یو نظر دا دی چې دغه څانګه په ۱۹۵۰ میلادي کال کې د چامســـکي له کارونو را ووتله او کله چې چامســـکي د ســکینر په چلن‌والي اروااپوهنې انتقاد وکړ له هغې وروسـته دغه څانګه په علمي ډول رامنځته شوه (Chomsky, 1959, p. 26, 58).

## ۱. د ووندټ ۱۹۰۰ دیاګرام

د ووندټ (Wilhelm Wundt) (ویلیم ووندت د ژبې د تولید د څرنګوالي په اړه یو موډل معرفي کړی و چې د ژبې په تولید کې د ذهني پروســـو د ونډې ښـــودنه کوي. دغه موډل د ووندټ په (ولسي-اروااپوهنه) اثر کې په ډېر ښــه ډول تشریـح شـوی دی. نوموړي باور درلود چې ژبه یوازې فزیکي اړخ نه لري، بلکې ژبه د ذهني او ټولنیزو پروســو مشــترکه نتیجه ده.) دیاګرام څلور برخې لري چې هره برخه ځانګړی مفهوم وړاندې کوي.

د ویلیم ووندت (۱۹۰۰) د ژبې د تولید موډل




په لومړۍ برخه کې یې چې د (Conceptualization) په نامه یادېږي، د وینا لومړني حرکتونه ترسره کېږي. کله چې انســـان غواړي څه ووایي، تر هرڅه وړاندې د هماغه څه په اړه چې غواړي ویې وایي یو ذهني جوړښـــت رامنځته کوي. ووندټ باور درلود چې دا برخه د ذهني او ټولنیزو لاملونو تر اغېزې لاندې ده، د بېلګې په ډول که یو شخص غواړي ووایي (زه وږی یم) لومړی په خپل ذهن او فکر د وږي کېدو حالت رامنځته کوي (Wundt, 1900, p. 145).

د ووندټ د دیاګرام دویمه برخه چې د **(Formulation / Grammatical Structuring)** په نوم یادېږي، د خبرو یا وینا لپاره ګرامري جوړښـــت تاکل کېږي. په دې مانا کله چې یو فکر یا یوه

مفکوره په ذهن کې جوړه شـــوه د هغې د بیان لپاره نحوي جوړښـــت رامنځته کېږي. د بېلګې په ډول که چېرې یو شخص غواړي ووایي چې ( وږی یم ) لومړی به (زه) فاعل، او خبر ( وږی یم )، جمله ورته جوړوي چې دا په خپله ګرامري جوړښـــت ته اړتیا لري. د وونډټ په وینا ژبه یوازې لفظونه او کلمې نه دي، بلکې ژبه د ګرامر په مرسته د اړیکې جوړښت هم دی.

د دیاګرام، دریېمه برخه د (Lexical & Phonological Encoding) په نوم یادېږي. د وونډټ په باور په دې برخه یا په دې پړاو کې د جملې او نحوي جوړښـــت لپاره مناســـې کلمې او لفظونه ټـاکـل کېږي او د هغو غږیزه بڼـه پـه ذهن کې تنظیمېږي. لکـه د "زه"، "وږی"، " یم"، لفظونـه انتخابېږي، له هغې وروســـته د ټاکل شـــویو کلمو غږیز ډولونه په ذهن کې فعاله کېږي او د وینا د تنظیم لپاره عملاً کارول کېږي.

د دیاګرام څلورمه برخه چې د (Articulation) اصـــطلاح ورته کارول شـــوې، د وینا د تولید وروســـتۍ او عملي برخه ده. په دې مانا چې په دې پړاو کې غږ تولېدېږي، وینایيز غړي لکه ژبه، شونډې، ستونی او سږي د غږونو، کلمو د تولید لپاره په حرکت راځي، د بېلګې په ډول "زه وږی یم" جمله په فزیکي بڼه د غږ په ډول تولیدېږي (Wundt, 1900, p. 276).

ویلیم وونډټ د ژبې د تولید مرحلې په خپل دیاګرام کې مشخصې کړې چې هره برخه یا پړاو ځانګړې دندې لري. د مفکورې له ایجاد د وینا یا خبرو تر تولیده هرګام مشـــخص دی، د هغه په وینا ژبه یوازې د حافظې د کلمو ټولګه نه ده، بلکې ژبه ذهني، ټولنیز او رواني جوړښت دی چې د تولید هر پړاو یې ځانګړې پروسې لري.

## ۲. ذهني ګرامر

اوسنیو څېړنو کې ویل شوي چې ژبپوهنه د شناختي علم (Cognitive Science) مهمه څانګه ده. دغه څانګه د انسـان په ذهن کې د ژبې د برخو په اړه بحث او څېړنې کوي. ذهني ګرامر ( Mental grammar ) هغه منظم سیسـتم دی چې د انسـان په ذهن کې د ژبې د پوهېدنې او کارونې یا د وینا د تولید او درک لپاره د انســـان په ذهن کې وجود لري. ذهني ګرامر له هغه څه سره چې موږ یې د ګرامر په نامه پېژنو توپیر لري. د هرې ژبې هر ویونکی د خپلې ژبې د غږونو، د کلمو جوړښت، د جملو جوړښت، مانا او غیرشعوري(unconscious) پوهه لري چې په ژبپوهنه کې د ذهني ګرامر په نامه یادېږي.

ذهني ګرامر ماشومان له زېږون وروسته په غیر رسمي ډول زده کوي. چامسکي (۱۹۶۵) وایي چې دغه ګرامر فطري اوغیرشعوري دی. ذهني ګرامر ډېر منظم او سیستماتیک جوړښت لري، که

څه هم عام وګړي ګرامري قواعدو سره بلد نه وي خو کله چې ژبه کاروي (د جملو جوړولو پرمهال) په بې‌اختیاره توګه د همدې منظم سیستم له لارې ژبه کاروي او له هماغو قواعدو پیروي کوي. دغه ذهني جوړښت د ټولو ویونکو په ذهن کې فعال وي ( ,Fromkin, rodman & hyams .(2018, p. 2

شناختي علوم د انسان په ذهن کې رواني پروسې مطالعه کوي او د دغو پروسو په څرنګوالي بحث کوي. تصور وکړئ چې اوس موږ پښتو خبرې کوو، زه خبرې کوم او تاسو یې درک کوئ، تاسو خبرې کوئ او زه ستاسو خبرې درک کوم. زه په خپل ذهن کې یو فکر لرم، غواړم تاسو سره یې شریک کړم، لومړی له سږو څخه هوا را وباسم، غږیز مزي مې رپېږي، په خوله کې غږیز غړي په حرکت راځي او ځانګړي غږونه له خولې څخه بهر کېږي. تاسو دغه غږونه اورئ، ستاسو د غوږونو پردې رپېږي او په سم دستي ډول مغز ته نښې لېږدوي چې ستاسو په ذهن کې هماغه فکر جوړ کړي کوم چې زما په ذهن کې و، په دې مانا چې یو ګډ سیستم ته اړتیا ده چې دوه ذهنونه ( زما او ستاسو ذهنونه) سره نښلوي چې له امله یې د خبرو له لارې یو د بل په فکر پوه شو، دغه پروسه په اصل کې ډېره پېچلې ده او په دې کې په سلګونو ژنونه او برخې ونډه اخلي تر څو دا پروسه بریالۍ کړي. دغه پروسې د ذهني ګرامر په مرسته ترسره کېږي، هر ویونکی ذهني ګرامر لري.

ذهني ګرامر هم برخې برخې لري، چې غږپوهنه، اوازپوهنه، مورفولوژي، نحوه او ماناپوهنه په کې شامل دي. دا چې غږونه څنګه تولیدېږي، اورېدونکي یې څنګه اوري او درک کوي، که د ویونکي دویمه ژبه زده وي د یوې ژبې غږونه د بلې ژبې له هغو سره څه ډول پرتله او ځینې داسې نور موارد په اوازپوهنه کې تنظیمېږي. همدا ډول د هرې ژبې په ذهني ګرامر چې غږونه په څه ډول په ذهن کې تنظیمېږي دې ته غږپوهنه وایي. د کلمو جوړښت او د مانالرونکو عناصرو درک او تولید بیا د مورفولوژي په برخه کې تنظېمېږي، په همدې ډول د جملو تولید، درک او څرنګوالی د نحوې له خوا سمبالېږي. مانا او مانا پورې اړوند ټول مواد د ماناپوهنې په ساحه کې تنظېږي، همدا یادې شوې پنځه برخې د ذهني ګرامر اساس جوړوي چې د ژبې ټول ویونکي یې په ډېر ښه ډول کاروي.

په ټوله کې ذهني ګرامر د انسانانو فطري وړتیا اوغیرشعوري منظم سیستم دی چې ځینې وخت له ښوونیزو ګرامرونو سره یو ډول نه وي، بلکې د ژبې د اصلي جوړښت او کارونې له مخې رامنځته کېږي. د چامسکي د ژبپوهنې نظریه هم دا خبره تاییدوي. انساني مغز ځانګړي جوړښتونه لري چې د ژبې د زده کړې او تولید لپاره ځانګړې فعالیتونه ترسره کوي، چې له دې ښکاري چې

انســان په فطري ډول د ژبې وړتیا لري او دا وړتیا د انســان د نورو وړتیاوو له ډلې یوه مهمه برخه ګڼل کېږي (Pinker, 1994, p. 45).

**ب) ژبپوهنه او ادراکي ارواپوهنه**

اروپاوهنې د ژبې د زده‌کړې په اړه بېلابېل نظریات او لیدلوري وړاندې کړې دي. ځینې نظرونه او لیدلوري د ژبې په زده‌کړه کې ډېر ګټور تمام شــوي دي، له همدې امله یې اروپاوهنیزې ژبپوهنې ته لار پیدا کړې او په دې څانګه کې یې ځانته ځانګړی ځای پیدا کړی دی. اروپاوهنیزه ژبپوهنه ژبه او فکر دوې خپلواکې پدیدې بولي؛ خو وایي چې یو له بل سره ډېرې نږدې اړیکې لري. زده‌کړه په ځانګړې توګه د ژبې زده‌کړه، یوه فردي ادراکي پروســه ده، چې د فرد په داخل کې ترسره کېږي او له هغې وروســته بیا د ټولنې په لور درومي. اروپاوهنیزه ژبپوهنه په هغو اروپاوهنیز لاملونو، چې د ژبې په زده‌کړه کې ګټور تمام شوي دي خبرې کوي، دغه لاملونه د ژبې په کارونې او واقعي ارتباط باندې تمرکز کوي. د زده‌کړیالانو له خوا د داســې یو تصــمیم نیول چې له مخې یې ژبه په اسانۍ سره درک کړي، اړین دي (یزداني و همکاران، ۱۴۰۴، ص. ۲۳).

کله چې انسان د خبرو او د وینا د تولید په اړه هوډ نیسي، تر هغې چې وینا او خبرې تولیدېږي څو پړاوونه باید بشپړ کړي چې د وینا تولید رامنځته شي. د مناسبو کلمو ټاکنه د دې پړاونو لومړۍ برخه ده، د نحوي جوړښــت چمتو کول، د لفظونو د غږیزو بڼو رامنځته کول او د هرې کلمې او په ټوله کې د وینا د اداینې لپاره د پلان محاســبه کول هغه پړاوونه دي چې د وینا د تولید په برخه کې بشــپړېږي. د دې پړاوونو بشــپړول د هغو شــاوخوا ســلو عضــلو په مرســته کېږي چې د وینایيز سیســتم د هوا بهیر کنټرولوي. د دې پړاونو په پای کې د څارنې یو بهیر هم شــته چې په مرســته یې په وینا کې د ستونزو مخنیوی کیږي (levelt, 1989, p. 231).

اروپاوهنیزه ژبپوهنه د انســـان په مغز او ذهن کې پېچلو مســـایلو باندې بحث کوي او دا یوه بین‌الرشتوي څانګه ده چې اوازپوهنه، غږپوهنه، صرف، نحوه، ماناپوهنه او داسې نورې برخې یې د پېچلتیا ښــکارندویي کوي. په ټوله کې اروپاوهنیزه ژبپوهنه دا مطالعه کوي چې انســان ژبه په څه ډول درک کوي، پــه څه ډول ژبــه تولیــدوي او همــدا راز د ژبې پروســـه پــه څه ډول پــه مغز کې پروسس کېږي.

اروپاوهنیزه ژبپوهنه په مغز کې د خبرو پرمهال ذهني پروســـې څېړي چې کله یو شـــخص د خبرو په حال کې وي په مغز او ذهن کې څه پېښېږي. په دې مانا چې کله یو شخص فکر کوي او له هغې وروسته دغه فکر د خبرو او وینا له لارې بهر کوي، په دې جریان کې د انسان په مغز کې کومې پروسې طی کېږي. همدا رنګه په دوه ژبي‌توب کې د هرې ژبې عصبي برخه په مغز کې د

بېلو بېلو جوړښـــتونو درلودونکې ده او همدا ډول توپيرونه د دواړو ژبو د کارونې ډول ( Paradis, 2004, p. 15).

**۱. اوريز اختلال**

اوريز مکانيزم، د کلام د درک لپاره د اوريزو اطلاعاتو د درک مسـوول دی. کله چې ژبنی پيغام د غوږونو له لارې، د اوريزې برخې د عصبي سيستم په مرسته مغز ته رسېږي. د ژبنيو غږونو د درک په اړه چې غوږونو يې د پيوسـته وينا په توګه اوري، ويل کېږي، چې د وينا درک د وينايیزو نښـو په مرسـته، چې دغه وينايیزې نښـې په خپله د مورفو-فونولوژيکي جوړښـتونو او منطقي اړيکو په مرسته مشخص کېږي او له هغې وروسته د غږونو د درک پړاو پيلېږي، له دې وروسته د دغو نښو د رمزونو روښانول د ژبنيو رمزونو په مرسته پيلېږي. کله چې ژبنۍ نښې د نورو ژبنيو نښـو په مرسته روښانه شوې، له هغې وروسته د کلام عمومي پيغام تشخيص کېږي (لوريا، ۱۳۷۹، ص. ۳۸۰).

د ژبنيو غږونو د درک اختلال، په اوريز مکانيزم کې د ځينو ســـتونزو له امله رامنځته کېږي، کېدی شي د اوريز مکانيزمونه په لاندې برخو کې له ستونزو سره مخ شي:

اول: د ژبې د فونيمونو او مورفيمونو په برخه کې اختلاف: په دا ډول ژبني اختلال کې مشـــابه يا هم سره لرې فونيمونه يو له بل سره ګډېږي، په دا ډول ناروغۍ کې، ناروغ د فونيمونو ځانګړنې نه شي تشخيص کولی، له همدې امله کوم پيغام چې ورته را رسېږي په درک کې يې له ستونزو سره مخ کېږي. د انسان ژبه په مغز کې له ځانګړو جوړښتونو سره تړلې ده، او د ژبپوهنې هدف د دې اړيکو مطالعه او د ژبې د زده کړې ميکانيزمونه تشريح کړي (Aitchison, 1976, p. 10).

دوم: د درک اختلال: د ګرامري منطقي اړيکو په درک کې اختلال؛ ځينې ناروغان په مغز کې د يوې سـتونزې له امله، د ګرامري منطقي اړيکو په درک کې له سـتونزو سره مخ کېږي، په دې مانا چې دا ډول افراد د اطلاعاتو په پروســس کې له سـتونزو سره مخ کېږي( سـتاينبرګ، ۱۳۸۱، ص. ۹۶).

ســـوم: د وينايیزې کړۍ د جوړښـــت په درک کې اختلال: دا ډول ناروغان چې له داســـې ژبنۍ ستونزې سره مخ وي، نشي- کولی د وينايیزې کړۍ جوړښت درک کړي. دا ډول افراد د ځنځيري او ناځيځيري جوړښتونو په درک کې ستونزه لري.

څلورم: د پيغام او متن د مو ضوع په درک کې اختلال: دا ډول افراد کولی شي پېچلي ګرامري جوړښـتونه درک کړي؛ خو دا ډول ناروغان بيا نشي- کولی چې ځينې پېچلي جوړښـتونه چې مانا

يې استنتاج ته اړتيا ولري درک کړي. په دې مانا چې د جملې له ظاهر څخه د مانا په ترلاسه کولو يا اخيستنه کې ستونزه لري.

### ۲. وينايیز اختلال

ژبه او وينا د انساني اړيکو بنسټيزه وسيله ده هر ډول ستونزه چې د دې وسيلې د کارونې په لاره کې خنډ واقع شي، په ارواپوهنه کې د ژبې او وينا اختلال (Speech and Language Disorders) په نوم يادېږي. دا اختلال د فرد پر ټولنيزو اړيکو، تعليمي پرمختګ او رواني ســلامتۍ ژور اغېز لري. وينايیز اختلال په وينايیزو غړو او د انســان په مغز کې د ځينو ســتونزو له امله رامنځته کېږي(يزداني و همکاران، ۱۴۰۴، ص. ۲۵).

د دوديزو ليدلورو له مخې د انســان په مغز کې د بروکا ناحيه، د وينايیزو حرکتونو د همغږي کولو دنده پرغاړه لري. په ۱۹۶۱ ميلادي کې فرانســوي څېړونکي پال بروکا د ژبې او مغز په اړه د خپلو څېړنو پايلې خپرې کړې د دغه اثر خپرېدل په حقيقت د ژبني اختلال په اړه د دقيقو مطالعاتو پيل و. وينايیز اختلال تر ډېره د ځينو پېښو، لکه د موټرچلولو پرمهال له يوې پېښې سره مخ کېدل، په جګړو کې ټپي کېدل او په مغز کې د ځينو ستونزو د رامنځته کېدو له امله پېښېږي. بروکا لومړنی څېړونکی و چې وينايیز اختلال باندې يې خبرې وکړې او په ډاګه يې کړه چې د مغز په ځينو برخو کې د زيان پېښــېدو له امله وينايیز اختلال رامنځته کېږي. د مغز هغه برخه چې وينايیز حرکتونه همغږي کوي د بروکا له خوا وپېژندل شــوه او تر اوســه هم د هغه په نامه يادېږي (ستاينبرګ، ۱۳۸۱، ص. ۲۳۱).

د وينايیزو اختلالاتو لاملونه بېلابېل دي، مغزي ســکته، مغزي ټپ او داســې لاملونه وينايیز اختلالات رامنځته کوي. وينايیز اختلال د وينا د کيفيت، تلفظ، غږونو، روانه، نورماله وينا او داسې نورو لاملونو له مخې د کلينيکي ارزونې له لارې تشخيص کېږي. د ژبپوهنيزو څېړنو د پايلو له مخې د انســان مغز بېلابېلې برخې د ژبې د پوهېدو او توليد په پروسـه کې يو له بله سره همغږي لري او دغه ګډ فعاليت د ژبنۍ وړتيا بنسټ بڼدي دا ډول څېړنې ډېرې شوې او پايلې يې نږدې دي (Gazzaniga, Ivry & Mangun, 2019, p. 21).

### ۳.د وينا درک او توليد

ژبپوهنه د ژبې د پوهېدو، توليد او د مغز د فعاليتونو ترمنځ اړيکه څېړي، او هڅه کوي د انســان د ژبني چلند منطقي اصــول معلوم کړي (Field, 2004, p. 22) . ژبه د انســاني اړيکو، د پوهې د انتقال او فکري فعاليتونو مهمه وســيله ده. د ژبپوهنې او ارواپوهنې له مخې د ژبې درک او توليد دواړه، د مغز د ځانګړو برخو د عصبي شبکو او رواني مکانيزمونو په مرسته ترسره کېږي. د ژبې

درك هغه پروســه ده چې انســان يې د اورېدو، لوســتو او نښــو له لارې ترسره کوي. ژبه د هغو وړتياوو له ډلې شــمېرل کېږي چې انســان په نړۍ کې له نورو موجوداتو بېلوي او همدا رنگه ژبه هغه پديده ده چې پېچلې ټولنيزې اړيکې تنظيموي.. (Altmann, 1997, p. 1)

وينا تر هرڅه وړاندې يوې جســمي کړنې ته اړتيا لري او دا هغه پروســه ده چې د اوازونو د توليد (articulation) په نامه يادېږي. په حقيقت د وينا توليد د نورو جســمي کړنو په پرتله پېچلی عمل دی، ځکه د وينا په توليد کې نږدې ســل ماهيچې تر کنترول لاندې نيول کېږي چې په هم‌مهاله ډول په حرکت راځي (ستاينبرگ، ۱۳۸۱، ص. ۱۳۹۱).

د وينا د توليد په اړه وړاندې شوې نظريې وړاندې پوښتنو ته ځواب وايي:

کله چې يو شــخص يو فکر يا يو نظر لري او غواړي چې هغه په ژبه بيان کړي او په اړه يې خبرې او وينا وکړي، د وينا او خبرو تر توليده کومې پروسې طی کېږي؟

دغه پروسې په څه ډول او د کومو برخو په مرسته کنترولېږي؟

په څه ډول د غږونو د توليد لپاره حرکتي دســتگاه (Motor system) فزيکي حرکتونه کوي او د غږونو توليد په څه ډول دی؟

د وينا او خبرو توليد لږ تر لږه درې ذهني عمليات غواړي، لومړی دا چې ويناوال بايد د يو څه په اړه فکر وکړي چې وغواړي هغه بيان کړي. دغه عمل د مفهوم جوړونې (conceptualization) په مرسته ترسره کېږي؟ کله چې ويناوال د خبرو لپاره چمتوالی نيسي، هغو امکاناتو ته په کتو چې ژبه يې په اختيار کې ورکوي، د بيان مناســبه شــيوه يا ډول د ځان لپاره اختياروي، چې دغه پروسه د فورمولېشن(formulation) په نامه يادېږي. په پايله کې دغه فرد بايد خپلې ماهيچې په حرکت راولي چې غږيز موجونه رامنځته او اورېدونکی يې درک کړي. دغه وروستۍ پروسه د غږونو د توليد په نامه يادېږي ( Griffin & Ferreira, 2006, p. 89).

**پايله**

اروپوهنيزه ژبپوهنه لـه ژبپوهنې او اروپوهنې گډ ترکيب دی. دا حوزه د ژبپوهنې او اروپوهنې ترمنځ بين الرشــتوي څانگه ده چې له يادو دواړو برخو جوړه شــوې ده. د ژبې اروپوهنه په دې بحث کوي چې څنگه ژبه د انســان د ذهن له خوا پروســس کېږي. همدا ډول دغه څانگه په دې څېړنه او بحث کوي چې ژبه په څه ډول د انسان له خوا زده‌کېږي او په څه ډول د انسان د ذهن له خوا توليد او درک کېږي.

د خبرو لپاره په مغز کې ځانگړې برخې فعاليت کوي. د بروکا او ورنيکه برخې او د دغو برخو ترمنځ طبيعي اړيکې او همدا رنگه د وينا د توليد اړوند حرکتي مرکزونو او د مغز په قشــر کې د

ځینو برخو موجودیت د وینا د تولید او خبرو لپاره اړین دي. په بله وینا د وینا او خبرو د تولید لپاره ځانګړو عصب‌پېژندونکو امکاناتو ته اړتیا ده. د انسان د مغز په قشر ـ کې تکاملي سیر او همدا رنګ په مغز کې د ځانګړو ژبنیو برخو موجودیت لکه د بروکا او ورنیکه، انسان ته د خبرو کولو او د وینا د درک وړتیا ورکوي. دغه ځانګړنې په نورو موجوداتو کې نشته. د دغو ځانګړنو ډېره وړه او ابتدایي برخې انسان ته په ورته بیزوګانو کې لیدل شوي. همدا رنګه د انسان په مغز کې د ژبې لپاره دځانګړو ژنونو موجودیت او جوړښت تایید شوی دی. د وینا د تکامل او رامنځته کېدو په برخه کې بل ټکی چې باید له وراثتي زاویې په پام کې ونیول شي، هغه د ژبې او د انسان د بدن ترمنځ د حرکتونو اړیکه ده، ګوردن هیوز د ژبې او د بدن د حرکتونو ترمنځ اړیکو ته اشاره کوي او وایي چې د انسان د اړیکو د ټینګښت لپاره د ژبې ترڅنګ ځینې حرکتونه هم ترسره کوي چې له ژبې سره په اړیکه کې دي. د نوموړي په وینا د وینا د تولید پرمهال د انسان ژبه او د بدن حرکتونه په اړیکه کې وي لکه د مخ او لاسونو حرکتونه. د هیوز له دې خبرو ښکاري چې د دغو ټولو مواردو د تنظیم لپاره متنوع ژنونه شته دي.

د ځینو معتبرو منابعو له مخې د ژبې د ارواپوهنې اساس په نولسمه پېړۍ کې ایښودل شوی دی، هغه مهال د ارواپوهنې سترو عالمانو په دې برخه کې ځینې ګامونه اوچت کړل چې له مخې یې د ژبې اروایپوهنې ته لار هواره شوه او د دغې څانګې په اړه لومړني او اساسي ګامونه اوچت شول. ویلیم ووندټ چې د تجربي اروایپوهنې پلار ګڼل شوی دی د لومړي ځل لپاره یې د ژبې او فکر ترمنځ په اړیکې څېړنه وکړه، د نوموړي څېړنې د راتلونکو څېړنو او په دې برخه کې علمي کارونو ته لار هواره کړه او د ذهني پروسو او عملیاتو د مطالعې په برخه کې یې لېوالیتا زیاته کړه.

**اخځلیکونه**


ستاینبرګ، دنی. (۱۳۸۱). *درآمدی بر روان‌شناسی زبان*. ژباړن: ارسلان ګلفام. تهران: انتشارات سمت.

فرید، فرنوش. (۱۴۰۳). تاریخچه روان‌شناسي زبان. *فصلنامه همخوان*، ۲(۲)، ۸ - ۹.
https://sanad.um.ac.ir/index.php?option=com_mag&view=magpage&id=2244

لوریا، الکساندر رومانویچ. (۱۳۷۹). *زبان و شناخت*. ژباړن: حبیب الله قاسم‌زاده. تهران: انتشارات فرهنګان.

یزداني، عرفان و همکاران. (۱۴۰۴). نقش روان شناسی زبان در یادګیری و آموزش زبان، چهارمین همایش ملی ایده‌های کاربردی در علوم تربیتی، روانشناسی و مطالعات فرهنګی، بوشهر،
https://civilica.com/doc/2268727

*Aitchison, J., (1976) The Articulate Mammal: An Introduction to Psycholinguistics. New York: Routledge.*

*Altmann, G. T. M. (1997). The ascent of Babel: An exploration of language, mind, and understanding. Oxford University Press.*

*Chomsky, N. (1959). A review of B. F. Skinner's Verbal Behavior. Language, 35(1), 26–58.*

*Field, J., (2004). Psycholinguistics: The Key Concepts. New York: Routledge.*

*Fromkin, V., Rodman, R., & Hyams, N. (2018). An Introduction to Language (11th ed.). Cengage Learning.*

*Gazzaniga, M. S., Ivry, R., & Mangun, G. (2019). Cognitive neuroscience: The biology of the mind (5th ed.). W. W. Norton & Company.*

*Griffin, Z. M., & Ferreira, V. S. (2006). Properties of spoken language production. In M. A. Gernsbacher & M. J. Traxler (Eds.), Handbook of Psycholinguistics (2nd ed., pp. 901–940). Academic Press.*

*Levelt, W. J. M. (1989). Speaking: From intention to articulation. MIT Press.*

*Paradis, M. (2004). A neurolinguistic theory of bilingualism. John Benjamins.*

*Pinker, S. (1994). The language instinct: How the mind creates language. HarperCollins.*

Wundt,W.(*1900*).*Völkerpsychologie:EineUntersuchung der Entwicklungsgesetze von Sprache, Mythus und Sitte* (Vol. 1: Die Sprache). Leipzig: Wilhelm Engelmann.